# څه ګورم او څه اورم

د

ګل باچا «الفت»

Ketabton.com

د نا چاپ شوي آثارو څخه

www.ulfat.de

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# پیل

نه پوهیږم. د قدرت څه منظوره وه؟ او دې نړۍ څه احتیاج درلود چه زه ئې د خپلو نندارو او تماشو دپاره را بللم. دغه راز نا اشنا چه نه ئې نوم معلوم وي او نه ئې څوك له احواله خبر وی هېڅوك خپل محفل ته نه را غواړي او نه خپل ښه او بد ورته څرګندوي.

زه هم سره له دی چه د دې عالم ناسته ولاړه دود و دستور، وفا او جفا، رحم او ظلم ښه او بد هېڅ راته نه و معلوم او نه مې پدې باب کښې څه تصور او تخیل کولی شو راغلم او د دغه مجهوله بلنه مې قبوله کړه. سره له دې چې زما سابقه او آینده هېڅ ته نه وه معلومه او نه مې چا ته د خپل راتلونکی ژوند په نسبت څه ویلی و، زما په راتګ د خوشحالۍ ډزې وشوې او له هرې خوا د مبارکۍ آوازونه پورته شوه. د کلي او کور لوی او واړه ټول خوشحاله و او زما د استقبال مراسم په ډېر ښه شان اجرا شوه.

وګورئ! هغه وخت چه زه د هېڅ نوم خاوند نه وم پخپلو او پردو، ښځو او نرو زما د راتګ زېری کېده او یوه خوا بله خوا د خوشخبرۍ ګلونه وګرزېده. زه هېڅ پوه نشوم چه دا دومره خوشحالی او خوشبینی د څه دپاره وه او زما ولې دومره ډېر قدر کېده؟

بې له دېنه چه دې خلقو ته جدت پسند وواېو نور به نو څه وواېو؟

هو! دا خلق هر وخت نوي شیان خوښوي او زاړه ردوي، هره ورځ په نوو اشنایانو پسې ګرزي او پخوانی ملګری پرېږدي همدغه سبب دی چه د دوی د بې وفا توب قصې په هر ځای کښې کېږی او هر څوك دوی ته بې وفا وائي.

د همدې دپاره چه دوی هر وخت او په هر شي کښې نوي رنګونه خوښوي زمانه هم د دوی په ولی پوهېږی او لکه یو هوښیار سوداګر وخت په وخت ورته نوي جامې او نوي ټوکي راوړي او د دې زړې دنیا په مخ نوي رنګونه پورې کوي. کله ورته د کاڼو او ګټو بوتان جوړوي او کله یې د دود و دستور په اصنامو غولوي یوه ورځ یې په کلیسا کښې او بله ورځ یې په اتشکده کښې د عبادت دپاره رابولي. همدغه یو انسان دی چه کله زردشت او کله بودا شي یوه ورځ ساحري او بله ورځ فرعوني کوي کله نور سمې لارې ته را بولي او کله خپل ځان له ګړنګونو غورځوي. له کوم وخته چه زه را ویښ شوی یم او خپلی سترګی مې غړولي دي تر اوسه پورې مې د دنیا پیښې په یو راز نه دی لیدلی او نه یوه شپه د بلې په شان تېرېږی طبیعت او زمانه لکه نازکخیال شاعر هر وخت په ابتکار پسې ګرزي او نوي نوي مضمونونه پیدا کوي. زه هم د زمانې له ابتکاراتو نه شمېرل کېږم او زما مشاهدات هم ټول نوي او تازه مضامین دي. زما په حیات او ژوند کښې تکرار نشته زه هغه نه یم چه پرون وم او نه به

(c) ketabton.com: The Digital Library

سبا دغسې یم لکه چه نن مې ته وینې. که ته په ظاهره نه غولېږې زه هر ورځ بېل افکار او نوې خیالات لرم چه پرون هم نه و او سبا به هم نه وي.

کله چه زه د مور په غېږ کښې وم هغه وخت زه بل څوك وم مګر نن د محیط په غېږ کښې بل راز شوم هغه وخت به مې د مشرانو په ږیره لوبې کولې او خلقو به ښکلولوم مګر نن د خپلې ږیرې واك هم نلرم. هغه وخت زه مور و پلار په غېږ کښې ګرزولم مګر اوس باید زه دوی په شا وګرزوم او خدمت یې وکړم. په هغه وخت کښې چه هر څه له ما سره کېدل هغه یو قرض و چه نن یې باید ادا کړم.

وګورئ! واړه او کوچنیان هم د قرض په ورکولو مکلف دي مګر څنګه قرض؟

زما وزن په هغه وخت کښې ډېر لږ و مګر نن زما پېټی ډېر درونډ دی او زما له لوئیدو سره سم زما بار هم درونډ شویدی. هو! هر څومره چه یو سړی لوئېږی تکلیف یې هم هماغومره زیاتېږی همدغه سبب دی چه نن راځنې مشران اطاعت او کشران شفقت غواړي څوك راځنی ګلې کوي او ځینې راته هیلې او اسرې لری د همدغو هیلو او امیدونو دپاره زه روزل کېدم او زما په زړه کښې هم دامید رڼا ورورو زیاتېدله. که سړی ښه ځېر شي دنیا ټوله داسرو او امیدونو هنداره ده چه هر څوك پکښې له لرې څه ویني او هغه یې خوښېږي دی ورپسې هڅه کوی او هغه ورځنې ورورو لرې کېږي په اخره کښې ورپسې د ژوندانه له ګړنګه هم ځان وغورځوی او یوه بل عالم ته ولاړ شی. څوك نه پوهېږی چه داتګ به ترڅه وخته او تر کومه حده وي؟ څنګه به وي او څنګه به شي؟

هر یو پخپل سر د پاسه یوه وریځ ویني چه د ده ګمان پیدا کړیده او دی ورته امید لري، له دې وریځې کله ږلۍ اوري او کله بارانونه، په ځینو ځایو شنډه تېره شي او په ځینو ځایو کښې ورځنې سیلابونه وبهېږی. بداپان او شتمن هېڅ کله هیله لرونکو ته دومره څه نه ورکوی لکه چه قدرت او طبیعت یې د امید او اسرو خاوندانو ته ورکوي. هر څوك د خپل امید په رڼا کښې ژوند کوي او د رحمت وړانګې هر وخت د امید له کړکۍ د انسان په تیاره خونه کښې پرېوزي.

امید د ایمان یو جز دی چه خوف هم ورځنې پیدا کېږی څوك چه امید نلري هغه خوف هم نلري او نه یې په زړه کښې د ناکامۍ ویره او سودا وي. مونږ باید پخپل مخکښې د امید رڼا ځانته پیدا کړو، همدغه رڼا مونږ ته د پیشرفت او وړاندې تللو قوت راکوي.

زه خپل امید تر یوه حده ورسولم زما ځینې ملګري چه د امید توښه یې بیخی نه وه په هماغه لمړۍ مېنه پاته دي. امید هم لکه عشق او محبت انسان یوه عالی مقام ته رسوي او له تورې شپې نه یې رڼا ته راباسي. امیدونه او اسرې په ژوندانه کښې ډېره ستره برخه لرې مخصوصاً لوړ او عالي امیدونه چه د اشخاصو دروازې ته نه راټېټېږي او ذلت نه قبلوي. هغه وخت چه ما پدې لویه نړۍ کښې یوازې خپل پلار او مور پېژندله او ټوله دنیا راته د همدوی د شفقت غېږ ښکارېده د امید رڼا ورورو زما په زړه کښې زیاتېدله او ما ګمان کاوه چه دا نړۍ سر ترسره زما د پلار کور دی او بې له رحم و شفقته نور څه په دنیا کښې نشته. زه نه وم خبر چه دنیا د مارانو او لړمانو لیوانو او پړانګانو ځای هم دی او هغه د شفقت

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاسونه چه په سر او مخ تېرېږي کله کله د عتاب څپېړې شي او په مخ لګېږي ما په دغه دنیا کښې دغه راز اضداد ډېر لیدلي او مختلف واقعات راته معلوم دي.

هو! په دنیا کښې عجیب و غریب واقعات ډېر پېښېږي مګر افوس چه یا پټېږي او یا په بل رنګ ښودل کېږي زما د ژوند افسانه هم د دنیا د لوی او زاړه کتاب یوه پاڼه ده زه کوښښ کوم چه دا افسانه د حقیقت روح ولري او رښتیا وي مګر تاسی به یو هم دېته حاضر نه اوسئ چه خپل ځان لکه څنګه چه یاست هغسې ښکاره کړئ نو که دا قصه څه زیاتی او کمی ولری ما معذور وګڼئ هېڅ قصه ټوله رښتیا نه وي مګر خلق يې اوري دروغ لا تر اوسه داسې نه وي رټل شوی چه نه يې څوك وواييي او نه يې څوك واوري.

اوس هم ډېر خلق په دروغو پیشرفت کوي او د دروغو په ستاینه لوی لوی خلق له ځانه خوشحالوي. د حقیقت ویل دومره ګران کار دی چه يې له ښاغلی رجب خانه (تصوري انسان) بل څوك دا کار نه کوي. مګر هغه هم خلقو په دومره څپېړو وهلی چه ونه يې له یوی لوښتې نه جګېږي او هر څوك پرې خاندي. خبره له خبرې ولاړېږي زه هم لکه ځینې کسان چه تش ګړېدل يې مطلب وی او د نتیجې غم ورسره هېڅ نه وي له مطلبه لږ لرې شوم او قصه بلی خواته ولاړه نو بېرته د خپل مقصد ته را ګرزم او د خپل ژوند قصه را شروع کوم مګر نه پوهېږم چه دا قصه له کوم ځایه شروع کړم او تاسې له کومې برخې سره ډېره مینه لرئ. کله سړی د خپل ظلم او بې رحمی قصې کوي خلق ورته توریالی وايي مګر بالعکس د لویو سینو خاوندانو ته بې ننګه او بې غیرته وايي ځینی نور کسان وی چه هغوی ظالمان بد ګڼي او د هغوی کار نامو ته په بد نظر ګوري. زه نه پوهېږم چه ته (د قصې لوستونکی) څوك يې او څه راز ذوق لري زما مشاهدات ستا د تعجب موجب ګرزي او که عادي درته ښکاري.

هغه وخت چه زه د دنیا له ظلمونو څنې لانه وم خبر، د چنګیز او هلاکو قصې مې نه وې اورېدلی د دښمنانو بې رحمي راته هېڅ نه وه معلومه د جنګ او جګړو پاڼې مې نه وې لوستی، د حسد او عداوت اور می په زړه کښې نه و بل شوی د دعوو او دنګلو محکمه مې نه وه لیدلی د دنیا مینې راباندې غلبه نه وه کړی، سبائي له خوبه را پاڅېدم سترګې مې ومښلې ښکته پورته مې وکتل د کور و کلي خلق راته بل راز ښکاره شوه او بل راز سبا مې تر سترګو شو، هر سړی به بل ته ورنږدې کېده او په غوږ کښې به يې څه ورته وویل ورو کوچنیانو به په کوڅو کښې نارې وهلې چه نن يې فلانکی ... وژلی بل به ویل چه په چاړه يې حلال کړیدی، ښځو به ویل خدای دې دا کلا او دا پټې درنه پاته کړی زمکه ښه ده که ورور؟ د چا دی څه وکړه خو خپل ځان دې یو ستوی کړ. زه پدې خبرو ښه نه پوهېدم چه دا څه وائي او څوك يادوي له کومې ښځې به مې چه پوښتنه وکړه چه څه شویدی او څه خبره ده؟ همدومره به ئې وویل: (څې کئې زویه خدای دې دی ووهی) زه به هېڅ پوه نشوم او حیران به پاته شوم چه دا خلق نن ولې داسې خبرې کوي چه زه پرې نه پوهېږم او ما نه پوه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو ساعت وروسته د کلي ښځې ټولې شوې او يوه بل کلي ته تللې زه هم ورسره ملګرې شوم او يوه کاله ته ننوتو چه ډېرې ښځې راټولې شوي دي، څوك ژاړي او څوك خبرې کوي ځينې اوږه لمدوي او ځينې په لويو لويو ديګيو پسې اورونه بلوي. د کوټې په مينځ کښې څوك اوږد پروت دی او شاو خواېې ښځې ناستې دي لکه بدلې څه وائي او ژاړي.

يوه ښځه چه نوې راغله ژړېې هغه سپينې څادر لرې کړ او په چيغو يې لاس پورې کړ، زه هم ورنږدې شوم ګورم چه يو سړی په وينو کښې لټ پټ پروت دی او لکه پسه چا حلال کړيدی يوه ښځه چه د کلي د ملا ښځه ده د کوټې په کنج کښې ناسته ده خبرې کوي او نورو ښځو ورته غوږ نيولي دي هغې ښايسته ډېرې خبرې وکړې خو ماته اوس نه دي يادې چه څه يې ويل، دومره مې په ياد دی چه شهيد شهيد به يې ډېر ويل او د جمعې شپه به يې هم يادوله.

زه په همدغه ورځ وپوهېدم چه شهيد دغه مړي ته وائي چه چا حلال کړيدی او په وينو ککړ دی ځکه چه نورو مړو ته به چا شهيد نه ويل، وروسته بيا پدې هم پوه شوم چه دا سړی د خپل ورور له لاسه وژل شويدی يعنې وروربې غلو ته پيسې ورکړيدی چه هغه مړ کړي او مال يې ده ته پاته شي دې خبرې زه وډار کړم او هره شپه به مې غله په خوب کښې ليدل ما سره به هر وخت سودا وه چه غله په پيسو باندې خلق وژني او يو ورور د بل ورور د وژلو دپاره غلو ته پيسې ورکوي.

کومه شپه به چه ما ته خپل پلار پيسې راکړې وې زښت ډېر به ډارېدلم چه غله خبر نشي چه د ده په جيب کښې پيسې دي بيا به مې ويل، ځه! غله خو زمونږ مريدان دي او هر وخت مونږ ته شکرانې راوړي او دعا رانه غواړي بيا به راته سودا پيدا شوه چه هغه نور غله چه د فلانکي صاحب مريدان دي هغوی رانشي او ما په پيسو مړ نکړي. يوه بله ورځ چه يو سړی زمونږ حجرې ته راغلی و او ما ته يې څه پيسې راکړې خلقو به ويل چه دی د غلو مشر دی او هر وخت خلق په پيسو باندې وژني، ما به په زړه کښې ويل دې چه په پيسو باندې سړی وژني نو ما ته يې ولې خوشې په خوشې دومره ډېرې پيسې راکړې، بيا به مې ويل دا پيسې يې چه ما ته راکړې اوس په نورې پيسې ورسره نه وي او کوم بل سړی به مړ کړي چه له هغه نه پيسې واخلي. خلقو به ويل چه دی د سيدانو ډېر تابع دی او د لوی ځوان(حضرت عبدالقادر جيلانی قدس سره) په نامه ډېرې شکرانې د ده نمسيانو ته ورکوي، زه به پدې خبرو ډېر خوشحاله شوم چه ښه ده غله خو زمونږ د نيکه تابع دي او له مونږ نه وېرېږي.

زه هغه وخت په څه نه پوهېدم نو هر څه به مې چه په زړه کښې وګرزېدل هغه به مې ويل، يوه ورځ مې له خپل لالا (سپين ږيری خدمتګار) څخه پوښتنه وکړه چه لالا دا لوی ځوان هم د غلو مشرو، چه غله يې دومره تابع دي او مونږ ته د هغه په خاطر دومره ډېرې پيسې راکوي هغه راته ډېر په قار شو چه پام کوه! بيا داسې خبره ونکړې چه ډېر وبال دی او سړی ډېر ګنهکارېږي. زه پوه شوم چه خداېږو ډېره بده خبره مې کړېده چه لالا راته دومره په غصه شو، نو پخپله خبره ډېر پښيمانه شوم او زښت ډېر ووېرېدم، وروسته لالا پخلا کړم او راته يې ووېل لوی ځوان په خدای باندې ډېرګران او د خدای

(c) ketabton.com: The Digital Library

نازولې دی په کوم ځای کښې چه غله ایسار شی او سخته پرې راشی نو چه لوی ځوان یاد کړي سمدلاسه ور رسېږی او خدای پې ساتي. ده دا خبری همدغسې کولې او ما ورته غوږ نیولی و ځکه چه ما دغه قصې کله نه وې اورېدلي او د قصو ډېر شوقی وم، هره شپه به د تناره په غاړه ناست وم او ښځوته به مې زاری کولې چه ما ته قصې وکړی خو دا د لالا قصې راته چا نه وې کړې او زه نه وم خبر چه لالا هم په قصو باندې پوهېږي. پس له دې به هره ورځ لالا ته ورتلم چه ما ته د لوی ځوان قصې وکړه لالا اول راته د هغه د ژرندګری قصه وکړه او دې قصې ته ډېر خلق راغونډ شوه چه زمونږ ژرندګری هم حاضرو. لالا وویل د لوی ځوان یو ژرندګری و، چه له خلقو نه به پې زښت ډېر مزد اخیست د ده پاوی نیم چارك و او چارك پې نیم من و هر چا به چه د ده ژرندې ته غنم راوړل په دغو کاږو به پې ترېنه مزد تاله او د خلقو غنم به پې چه تلل د هغو دپاره ورسره نور سپك او کچه کاڼې و چه لږ غنم به پې ډېر خېژول. د ژرندګری ټول عمر دغه کارو چه خلق وغولوي او غلا وکړي. دا ژرندګری چه مړ شو او په قبر کښې پې کېښوده فی الحاله ورته نکیر منکر حاضر شوه چه د اور ګرزونه پې په لاس کښې و او له ده نه پې پوښتنه کوله چه رب دې څوك دی؟ پیغمبر دې څوك دی؟ او د چا په دین پې؟ ژرندګرې په دی خبرو خبر نه و او ویل پې زه نور نه پوهېږم خو د لوی ځوان ژرندګری یم چه د پاو په ځای مې نیم چارك مزد اخیست او د چارك په ځای نیم من. تر څو چه مړکېدم زما دغه کار و او بې له حضرت غوث الاعظم نه بل څوك نه پېژنم پدی وخت کښې ملایکو ګرزونه پورته کړه چه دی پرې وولي ژرندګری وویل یا غوث صاحب رارسېږه!

هغه فی الحاله ور ورسېده او ګرز پې په هوا کښې ونیوه چه زما له ژرندګری سره د چا کار نشته او دی له دې سوال او جواب څخه معاف دی ملایکو ویل مونږ مجبور یو چه له هر چا نه دغه تپوس وکړو او د خدای له لورې مونږ ته همدغه شان امر شویدی لوی ځوان ورته وویل هغه وخت چه پاك خدای له تاسو یعنی ملایکو سره مشوره کوله چه زه په زمکه کښې بنیادم پیدا کوم او تاسی وویل چه هغه خونونه او فسادونه کوي آیا تاسې له هغه نه ښه پوهېدلی؟ او د انسان کارونه تاسو ته زیات معلوم و؟ تاسې ماته دغه جواب راکړئ او بیا زما له ژرندګری پوښتنې وکړئ دلته ملایکې بې جوابه شوې او د پاك خدای حضور ته عرضې ورغلې چه مونږ لوی ځوان د خپل ژرندګری سوال و جواب ته نه پرېږدي او له مونږ نه دغه شان پوښتنې کوي د لوی خدای له حضوره ورته امر وشو چه تاسې له هغه سره غرض نلرئ هغه زما د محبوب ژرندګری دی.

دا قصه چه تمامه شوه د مجلس ټولو خلقو وویل په رښتیا چه لوی ځوان د خدای نازولی دی او د خدای په دربار کښې ډېر قدر لري، ده ته خدای همدومره مرتبه او درجه ورکړی وه چه د دولس کالو غرقه بېړی پې له دریابه را وایستله. دلته زما دپاره بله سودا پیدا شوه چه د غرقې بېړی قصه به لا څنګه وي؟ خو ښه و لالا په قصو راغلی و او زما له خواهش نه د مخه پې دا قصه هم شروع کړه چه یوه کونډه ښځه وه او یو ځوی پې درلود هغه چه ځوان او ځلمی شو مور پې ورته کوزده وکړه او څو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځې وروسته يې واده شروع شو د کونډې ځوی خپله ناوې په بېړۍ کښې سپره کړه او کور ته يې راوستله پدې وخت کښې نا څاپه له کومې خوا مخالف باد راوالوت او بېړی له ډول او سرنی او ناوې سره په سند کښې غرقه شوه کونډه چه له دې قصې خبره شوه له ډېره غمه لېونی شوه او شپه ورځ به يې ژړل په آخره کښې له کوره ووتله او د بزرگانو په در بار کښې به يې چيغې وهلې او ټول خلق يې نارامه کړی و. پس له دولس کالو چا ورته وويل چه ځه! لاړه شه! لوی ځوان ته عرض وکړه د هغه په دعا باندې ډېر ډېر کارونه کېږي او سوالونه يې د خدای په دربار کښې قبلېږي بوډۍ لاړه او لوی ځوان ته په ژړا شوه او خپله قصه يې ټوله ورته وکړه لوی ځوان ورته وويل اوس وخت ډېر تېر شوی پس له دېنه هېڅ نه کېږی ته خپل خدای ته صبر وکړه خدای به يې په اخرت کښې اجرونه درکړي.

بوډۍ په چيغو او کوکو لاس پورې کړ چه ستا له درباره هېڅوك نا اميده نه دی تللی او د هر چا مراد دلته تر سره شويدی زه هېڅکله له دې درگاه نه نه ځم او په همدې خاورو کښې به رغړم د کونډې چيغو او فريادونو د لوی پير مهرباني را وخوځوله او کونډی ته يې په ډېر جوش دعا وکړه يو ساعت وروسته د خدای په امر د سيند له مينځه بېړۍ را ووتله او هماغه خلق له ډول و سرنې سره امانت و سلامت را ووتل د ناوی په سر باندې هماغه دړۍ اينبې وې او هېڅ تغير پکښې نه و راغلی دغه خلق ټول د سيند مايانو او کبانو خوړلي و مگر پاك خدای د لوی پير په دعا د مايانو له خولو را و اېستل او بېرته يې ژوندی کړه دلته ما له لالا نه پوښتنه وکړه چه هغه ورځ چه د فلانی مور مونږ کره راغله او زمونږ نغری يې ښکلول هغې وويل لويه ځوانه که دې د دولس کالو غرقه بېړی اېستلی دی زما ځوی به هم له بندی خانې را وباسې، هغې نو همدغه بېړۍ ښودله لا لا وويل هوا همدغه بېړۍ يې يا دوله او په همدغه اميد خلق تاسې ته راځي او ستاسې دعا اخلي. د کوچنيتوب نا پوهی وه زه په ښو او بدو ښه نه پوهېدم او بېعقله وم بيا می لا لا ته وويل دا خلق نو د مايانو له خوله څنگه را ووتل هغه مايان چه دا خلق يې خوړلي و دا دولس کاله په هماغه سيند کښې پاته و او چا نه و نيولی؟

دا دومره ډېر دروغ څنگه خلق مني او غوږ ورته نيسي لالا دا ځل ډېر په قار شو، نږدې و چه ومې وهي خو خلقو ايسار کړ چه خير دی وړوکی دی نه پوهېږي، پس له دېنه بيا ما له چا نه پوښتنې نشوې کولی او ډېر اعتراضونه ډېرې سوداگانې به راته پيدا شوی مگر اظهار به مې نشو کولی او په مجلس به غلی او چوپ ناست وم ځکه چه لالا راته هر وخت ويل واړه بايد د لويو په مخکښې خبرې ونکړي او په ادب ناست وي، وروسته تر دې به مې د لالا او نورو خلقو په خبرو کښې خبرې نه کولې او هر څه به مې چه اورېدل هغه به راته صحيح ښکارېده، ټول ورځ به مې د بزرگانو قصې اورېدلې او په آخره کښې به ما هم خلقو ته ښې ښې قصې کولې، کله کله به ښځې هم را ټولې شوې او زما قصو ته به يې غوږ نيولی و زما په خبرو کښې به هم چا خبر ي نشوې کولې او ما ته به په لړه خبره ډېر قهر راغی او ښيرا به مې وکړې خلق زما له ښېراو نه ډېر ډارېدل او زما لاسونه به يې ښکلول دوی به ويل چه ټول سيدان همدغسې ژر ژر په قارېږي خدای دې سړی د دوی له قهره ساتي دعاپې نه لگېږي مگر ښيراپې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټك و ټتری وي. خبره بیا رانه بلې خوا ته ولاړه د غلو او شهید قصه نیمګړی پاته شوه زه باید دا قصه پوره کړم او اخر ته یې ورسوم. پدی قصه کښې د سکه ورور ظلم او د پلار بیرحمي بیا نېږي له دې قصې نه د دې وخت مسلماني او د دې زمانې وروري، د حاکمانو او مامورانو بې غوري ښکندېږي.

تاسي زړه مه تنګوئ زه به تاسي حقایقو ته ملتفت کړم او د خپل کلی او کور مظالم به دروښیم هغه شهید چه پخپلو وینو کښې لمبېدلی و یوازی نه و یو بل سړی هم ورسره په یوه چوړکی حلال شوی و چه هغه د ده مزدور او خدمتګار و. هغه بله هېڅ ګناه نه درلوده او یوازی پدی جرم ووژل شو چه غله یې وپېژندل او د دې احتمال موجود و چه سبا ته به رښتیا او حقیقت ووائي.

هغه څوك چه له غلو سره اشنا وي یا هغه سړی چه رښتیا او حقیقت بیانوي باید ووژل شي او ژوندی پاته نشي. دغه دوه تنه په یوه شپه پخپل کور کښې شهیدان شوه مګر یو هم په دغه جرم بندي نشو او نه پکښې څوك په لښته ووهل شو ځکه چه عارض او مدعی موجود نه و او د خلقو له خوا هم قاتلان ونه ښودل شوه. دغه رشوت خواره حاکمان او علاقه داران پخپلو چوکیو او قاضیان و مفتیان د شریعت په مسند ناست و. دوی ټول د قتل ځای ته حاضر شوه او په هغه ټغره کښېناستل چه خونیان هم ناست و، هغوی ته یې د مړو دعا هم وکړه.

خلق ښه خبر و چه قاتلان د شهید له وروره د دوه قتلونو پیسې غواړي او هغه د یوه قتل پیسې حقي ګڼي او د دې بل قتل په حق الزحمه کښې د شهید د کاله طلا ګانې او د ښځو ګاڼې مجرا کوي چه غلو د ښځو له غاړو او لاسونو په زوره اېستلې وې.

ته به وایې چه یو ورور څنګه د بل ورور په وژلو پیسې ورکوي مګر که تا پدې وطن کښې شپې کړی وي نو ډېر تعجب به ونکړې او بې شاهدانو به دغه خبره ومنې.

پښتانه هر وخت خپل او خپلوان وژني او پخپلو چړ و حلالیږی زمونږ دغه شهید هم د خپل ورور له لاسه ووژل شو او پلار یې هم په دغه قتل کښې شریك و. کله چه د شهید پلار (مشر خان) مړ کېده نو د کلي ملا صاحب او څو تنه سپین ږیري یې د وصیت دپاره را وغوښتل چه تاسې شاهدان اوسی زه خپل ټول مال کشر ځوی ته تملیکوم او مشر ځوی مې زما په مال کښې څه برخه نلرې ملایانو وویل ستا وصیت او تملیك د مرض په وخت کښې دی او شریعت یې نه مني مګر مونږ به ورته یوه لاره او روایت پیدا کړو چه په شریعت باندې دا خبره برابره شي که څه هم له شرع مخالف کار دی او د وارثانو محروموول خپل ځان د خدای له رحمته محروموول دی. خان پدی خبره ډېر خوشحاله شو او ملایانو ته یې سپینې پګړی په سر کړې.

هغوی قلم او کاغذ واخیست د خان ټول نقد و جنس مال یې چه په لکونو روپو قیمت یې درلود په دوه زره روپو یې د خان په کشر ځوی خرڅ کړ او دوی پرې شاهدان شوه.

په دغه شرعی حیله دوی د خان ټول جایداد دوه زره روپۍ وګڼلې او د خان میراث یې همدغه پیسې وګڼلې چه باید پس له مرګه د خان په وارثانو تقسیم شی او هر څه د خان کشر ځوی ته پاته شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا حيله د ملا صاحبانو په فتوی جوړه شوه او کاغذ وليکل شو خان دوه ورځې پس پتې سترګې اخرت ته ولاړ او د خپل دغه کار عاقبت يې نه ليده ځکه چه متاسفانه په دواړو سترګو ړوند و او څه يې نه ليدل. د ډېر تعجب خبره ده چه د ړانده خان په نظر کښې يو ځوی لکه يوسف ښکلی اومنلی او هغه بل ورته پردی او بيګانه معلومېده که څه هم دواړه د يوی مور او يوه پلار زامن و او سکنی ورونه بلل کېده. خير بې سترګو پلرونه همدغسې کوي مګر ګورو به چه دواړه ورونه پس د ده له مرګ څه کوی؟ هر کله چه د خان د تکفين او تجهيز مراسم او د فاتحی خبره خلاصېږي، مشر ورو د خپل کشر ورور سره د ميراث دعوه کوي هغه د ملا صاحبانو او سپين ږيرو په امضاء د پلار خط را باسی چه ټول مال يې په دوه زره روپو په ده خرڅ کړيدی او هغه دوه زره هم په کفن او اسقاط لګېدلی دی، مشر ورور حيران شو چه څه وکړی؟ او خپل حق څنګه ثابت کاندي؟ پس له فکره د هغه بل کلي ملا صاحب ته ورغی او له هغه نه يې روايت وغوښت هغه ملا صاحب د خان مشر ځوی ته مسئلې پيدا کړې چه دا بيع صحيح نه ده ځکه چه يو خو غبن فاحش دی او بل دا چه د خان نغدې روپۍ هم په زر هاؤ دي چه له ډېرو اجناسو سره په دوه زره روپۍ د خان په کشر ځوی خرڅې شويدي او دغه شان بيع باطله ده چه د فقه په معتبرو کتابونو کښې څه جواز نلري. د خان دواړه زامن پخپل مينځ کښې د دنيا په هډوکو ونښتل او فيصله يې ملايانو په راز راز مسايلو پيدا کولو ورځ په ورځ ګرانوله د دوی مخالف د پنځو تنو مسلمانانو په وجه چه د خير خواهۍ په ډول په مينځ کښی ګرزېدل ډېر شديد شو په اخره کښی د خان کشر ځوی له خپلو دوستانو سره مشوره وکړه هغوی ووېل دوه زره روپۍ بايد ملنګ خيلو ته ورکړو چه بېګاته يې مړ کړی او له شره يې خلاص شو پدې خبره کښې کشر خان څه قدر غلی شو او فکر وېوړ. د مرګ خبره البته څه اسانه خبره نه ده او اورمرو پکښې سړی څه قدر متردد کېږي. د خان ناظر ډېر عکاك و او پوه شو چه خان پدې فيصله کښې چرتي شو او فکر وېوړ نه چه دا خبره رد کړي او بل فکر وکړي. په همدغه موقع کښې يوه سپين ږيری غړ کړ چه بې له دېنه بله چاره نشته که مونږ دا کار ونکړو هغه يې کوي او همدغو غلو ته د کشر خان په وژلو پيسې ورکوی دلته د کشر خان په زړه کښې سودا پيدا کېږي او ملا صاحب ته مخ اړوی ملا صاحب ووېل که څوك د چا د مرګ اقدام کوي نو مرګ يې روا دی او د ځان مدافعه لازمه ده (اقتلوا الموذی قبل الايزاء) زمونږ ملا صاحبان چه په عربي څه ووائي نو بيا پکښې د شك او ترديد مجال نه دی او بې تحقيقه يې هر څوك مني.

کشر خان چه له يوې خوا د سپين ږير و او هوښيارانو مصلحت وليد او له بلې خوا د قتل فتوا هم صادره شوه خپل خير يې د ورور په قتل کښې وليد او غله يې را وغوښتل.

غله د ناظر اشنايان او خپلوان هم و او بې له پيسو نه هم د چا په وژلو نه و ايسار نو چه دوه زره روپۍ هم ورکړی شي او د ناظر لحاظ هم ورسره وي پدې قتل کښې به ولې ځنډ او معطلي پېښېږي.

غله بېګاه ته ځي او د خان د مشر ځوی په کاله لوېږي هغه چه غله ويني او پوهېږي چه هېڅ نشم کولی غلو ته عذرونه او زاری کوی مګر د غلو او داړه مارو زړونه مونږ غوندې نه دی او له تورو کاڼو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم کلك او سخت دی د هغوی دپاره وژل او حلالول هېڅ نه معلومېږي. خان که هر څومره وعدې وکړې چه زه به هېڅکله د میراث دعوه نه کوم او د خپل ورور نوکري به کوم چا په ده باندې رحم ونکړ او په پخه چاړه یې حلال کړ. د خان نوکر چه له کوره د بهر وتلو اراده وکړه هغه یې هم را ونیو او همدغه معامله ورسره وشوه یعنې دواړه د جمعی په شپه شهیدان شوه. سبا ته چه په کلي کښې رڼا شوه او خلق په کوڅو کښې وګرزېدل هر څوك له کیفیت نه خبرو چه بیګا څه وشوه او د چا په امر وشوه؟ ته به وایې د اسمان ملایکو ټول خلق خبر کړی و او د لویو وړو، ښځو او نرو غوږو ته دا خبره پوره رسېدلې وه چه پدی قتل کښې څومره پیسې ورکړی شوی او دا کار د چا په وسیله او ذریعه وکړ. دا خبره دومره رسوا شوه چه کاڼه او ړانده هم پرې خبر شوه او ښځو به د کودر په غاړه همدغه خبرې کولې مګر حاکم او علاقه دار، قاضی او مفتی خدای داسې کاڼه او ړانده کړه چه هیچا ته یې هېڅ ونه ویل او حق العبد څه چه حق الله پسې هم ونه ګرزېدل. توبه خدایه خدای هېڅکله دغسې نه کوې دوی رشوت او پیسو دغسې کړه هغه پیسې چه غلو اخستې وې دوی هم واخستلې او لمر یې په ګوته پټ کړ. دوی هم غله و مګر هغه نورو د شپې غلا کوله او دوی په رڼا ورځ. د اولس خلق هم غله شوه او غله یې پټ کړه په تحقیقاتو کښې یې وویل مونږ مسلمانان یو دروغ نشو ویلی او په ناحقه څوك نشو ښودلی مونږ غله او قاتلان نه پېژنو، مقتول له هیچا سره دښمنی نه درلوده چه مونږ یې معرفی کړو. پدې خبرو باندې د کلي سپین ږیرو او مسلمانانو ګوتې ولګولې او دسخطونه وشوه.

هېچا دا ونه ویل چه د دواړو ورونو تر مینځ څومره مخالفت و او دښمنې یې کوم حد ته رسېدلې وه د حاکم هم هېر شوی و چه دواړه ورونه هر وخت حکومت ته د څه دپاره راتله او یوه د بل په حق کښې څه ویل. د مقتول صغیر ځوی پیغله لور او کونډه ښځه پاته شوه، هغه مال چه د مقتول په کور کښې و غلو وېوړ او یو څه جز ئي شیان پاته شوه. زمکې، طلاګانې ژرندې پایکوګانې، د غلو ګودامونه نغدې روپۍ او فرش و ظرف هر څه د مقتول ورور ضبط کړه. اوس به ګورو چه له ورثه ؤ سره څه کېږي او دغه مظلومان د چا رحم او کرم ته سپارل کېږي؟ دا خبره د محکمې قاضی صاحب ته مفوضه وه چه باید د صغیر غم وخوري او هغه لږ غوندې مال چه صغیر ته پاته دی له صغیر سره یې یوه صالح متدین او خیر خواه وصې ته وسپارې چه په ښه سړیتوب مشهوروي او له خدایه ډارېږي.

هو! د شرع له خوا قاضی صاحب پدې مؤظف دی چه باید ډېر ښه سړی د صغیر دپاره وصي مقرر کړی چه هغه د ډېر رحم او ډېرې عاطفې خاوند وي او د یتیم مال نه خوری په همدغه اساس د صغیر تره وصي مقرر شو او صغیر له خپل مال سره د پلار قاتل ته وسپارل شو، د صغیر مور خو د هغه کونډه وه او د پښتنو په عرف کښې یې له بل چا سره نکاح نه وه روا ځکه یې په عدت کښې د کلي سپین ږیري او ملا را وغوښتل او نکاح یې پرې وتړله. خپله پیغله ورېره یې هم خپل کورته راوستله چه د ده په قبضه کښې وي او پخپله خوښه ځانته کوم مېړه پیدا نکړی. په صغیر باندې نه پوهېږم څه وشوه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

او څه ورپېښ شوه خو څو ورځې وروسته یې مړی له کلا را ووت او د پلار پخوا کښی خښ شو پلار خوبې شهید و مګر دغه شهید زاده ته چا شهید نه ویل ځکه چه د جرح علامات نه و موجود او په دوا باندې مړ شوی و. هماغه کار چه غله او داړه مار یې کوی ځینی طبیبان یې هم کوي او له هغوی نه په وژله کښې کم نه دي مګر د دوی دلاس مړی د شهیدانو درجه د خلقو په نزد نلري. د صغیر مور د دې لامله چه د مینې او محبت په اثر چا پرې نکاح نه وه تړلې بلکه د ضرورت او مجبوریت په سبب د خان په نامه شوې وه او مصلحت دا نه و چه له دغې ښځې څخه خان اولاد ولري ځکه چه د خان د ګرانې او اصلي ښځې اولادونه ډېر و نو (کا المعلقه) په کاله کښی ناسته وه او د کور خدمت دپاره وه مګر پخلی یې نشو کولی چه په کټو کښی زهر وانچوی مګر ځای به یې جارو کاوه او ناولی کالي به یې مینځل د همدې لامله نشم ویلی چه د دې ښځې لاس د خان په کالیو نه دي لګېدلي ځکه چه د مینځلو په وخت کښی یې د هغه ناپاکه جامې په لاس کښی اړولی را اړولی دی.

خان دغې ښځې ته هېڅکله نه کتل او داسی رویه یې ورسره نیولی وه لکه چه اوس یې هم د ورور کډه وې او بل راز کتل ورته له عفت او عصمت نه مخالفه خبره وې. زمونږ خان ډېر دینداره سړی دی او پردی ښځې ته نه ګوری مګر بې مېره خدمتګاره یې خوښېږی او ځان پرې چاپي کوي. دا ښځه کله خان بام ته هم نه ده پرې ایښی چه بهر دنیا وګوری او څوك ووینی یایې څوك ووینې. د دې ښځې پلو پس له هغې شپې چه غله او خونیان په کور را ننوتلي و بیا چا نه دی لیدلی او نه د چا لاس د دی په لاس لګېدلی دی. په هغه شپه خوبې البته غلو له لاسونو بنګړي ایستلي دي او د غاړې ګانه یې هم ورته نه وه پرې ایښی. زمونږ خان د خپلی وریرې په باب کښی هم ډېر فکر وکړ چه څنګه یې کړي او چا ته یې ورکړي. ریباران خو ډېر راتله مګر خان ته خدای ډېره دور اندیشی ورکړېده او ډېر لرې ګوري، دومره لرې هم نه چه اخرت ته وګوری مګر د دنیا په کارو کښې یې نظر تر ډېر لرې ځایه رسېږي. دی پدې پوهېده چه که دا ښکلی پیغله د کوم نارینه پښتون کور ته لاړه شي او په هغه کښې د جرئت او شجاعت جذبه موجوده وی نه چه کومه ورځ د دې نجلۍ د پلار انتقام واخلي یا په میراث دعوه او جګړه وکړي نو ځکه یې یو بې ازاره او مړیی زوم ولټاوه چه د ده په مخکښې کله زړوره خبره هم ونکړې. د خان له تالو نه د هغه په کور کښی تر اوسه کوم اولاد هم پیدا نشو چه د ده له اولاد سره د پلار او نیکه دښمني تازه کړیې. تاسې ګمان مه کوی چه دا کومه خیالی افسانه ده او لیکونکی له ځانه خبرې جوړوي، ما تعهد کړی چه رښتیا به وایم او څه مې چه لیدلی هغه به بیانوم. دا قصه زمونږ د کور او کلی یو واقعی سرګذشت دی او اوس هم لا خاتمه نه ده موندلی هغه کونډه اوس هم لکه معلقه ناسته ده او د خان وریره اوس هم ژوندی ده او خان سلامت هم حیات لري، پدی خبرو لا دومره وخت نه دی تېر چه د زمانې په مرور خانګې او ښاخونه پیدا کړي او مبالغې پکښې وشي. زه پدې قصه کښی یو طرفه قضاوت هم نه کوم او نه له عناد نه پکښی کار اخلم له دې سړي سره که څه هم د خدای دپاره بغض لرم مګر محاسن یې نه پټوم او وایم چه دی په کور او کلي کښي په ډېرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دینداری او ښه سړیتوب مشهور دی او ټول خلق ورته حاجي صاحب وائي. دی وروسته د ورور له وفاته حج ته هم ولاړ او حاجي صاحب شو. حاجی صاحب هیڅکله د قرآن کریم تلاوت نه قضا کوي او پنځه وخته مونځ په مسجد کښې په جمع کوي که څوك ووائي چه په لس کالو کښې به ده یو لمونځ هم نه دی قضا کړی وئیې منئ ځکه چه په لمانځه ډیر ټینګ دی او هغه وخت چه د ده ورور ژوندی و هم په لمانځه باندې کلك و. حاجی صاحب هغه عملونه چه ډیر لږ ګناه پکښې وي بد ګڼي په چلم باندې پې کله خوله نه ده ایښی او نه یې کله نسوار په خوله کښې اچولی دی. دوه یا دری کاله یې څه پیسې د ذکات په نامه خلقو ته ورکړې مګر وروسته یې پیسې د غلې د قیمتی په وجه ډیرې زیاتې شوې او زکات اېستل ورته ګران کار معلوم شو.

حاجی صاحب زښته ډیره غله اخلي چه زرو خروارو ته به رسیږي، دا غله دی د کال تر اخره ساتي او د ډیرې قیمتی په وخت کښې په ډیر ګران نرخ خرڅوي هغه وخت یې هم په نغد و نه ورکوي او تر یوه کاله یې پور ورکوي په همدغه سبب یې خلق یو په یو نیم یو په دوه له موجوده نرخ نه ګرانه اخلي که د نورو په شل خرڅیږي د ده په دیرش ځي. د ده دا عادت دی چه نغدې روپۍ هم په کور کښې نه ساتي او په ګرویوئې بندوي. ملا صاحب ده ته د ګروۍ په نامه سودا هم روا کړیدی یعنې بیع جایزې ورته وایې علاوه پدې یې یوه بله خبره هم ورته په غوږ کښې ایښی ده چه د ګروۍ په پیسو زکات هم نشته ځکه نغدې روپۍ په کاله کښې نه ساتي او ټولې په ګټه بندوي چه غاړه یې بنده نشي.

د همدی لامله ډیر ځله د ګروۍ ګټه په اصل ګروۍ زیاتوی او په دوه کالو کښې یې پیسې دومره شي چه باید د زمکې خاوند قطعی او بیع بات قباله ورکړې.

دا قصه نوره په همدغه ځای پریږدم زمونږ حاجی صاحب به نور د یادولو حق نه لری ځکه چه هلته نور هم ځینې خانان او ملکان شته چه ډیر خلق یې بې تیغه او په تېره تېغ حلال کړیدي او عالم یې په سره اور اړولی دی که څوك دغه مظالم لیکي نو خانان او ملکان لا څه کوی چه د پاچا صاحبانو کارنامې هم په یوه کتاب کښې نه تمامیږي او دغه چنګیزي افسانه نه خلاصیږي. د اولس حال او د دوی د مشرانو رویه له همدغې یوې نمونې څخه معلومېدلی شی. زما مدعا دا نه ده چه تاسو ته د ظالمانو اعلی او کامله نمونه وښیم چه په سل هاؤ تنه یې وژلي او ډیرې مېرو ښی یې په جبر او زور په دار اسلام کښې خپل کور ته ننوېستلي دي. زما مطلب دلته همدغومره دی چه د یوه متدین مسلمان او لمونځ ګذار حاجی مسلماني لږ غونډې ښکاره کړم او هغه په همدغومره تذکر معلومیږی.

د دې قصې د بیان باعث دا نه و چه ظلم او بې رحمي پکښې ډیره زیاته ده بلکه دا د یوه ښه سړي حکایت و او زما په حیات کښې لمړۍ واقعه وه چه زه یې د دې خلقو ظلمونو ته ملتفت کړم او په کوچنیتوب کښې ورسره اشنا شوم. نو دا قصه د ظلم او جبر لوړه او کامله نمونه مه ګڼې ځکه چه دا خو د دوه وروڼو د ورورولۍ مقابله ده او ورور وژل څه دومره نا اشنا خبره نه ده دلته ډیر کسان د خپلو وروڼو له لاسه څوك په مال او دولت ځینې نور په ښځو وژل شویدي او ځینو خپل پلرونه په قتل رسولي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي د دې قصې کیف په دغه حصه کښې موجود دی چه د داستان پهلوان یو داسی دینداره مسلمان او نیك سړی دی چه د جمعی په لمانځه کښی تل په اول صف کښې ځای لري او په ختمونو کښې مدام د حافظ جی شاته ولاړ وی. پدی ځای کښې باید تاسو ته دا سودا پیدا نشي چه دغه شان ظلمونه په یوه داسې ځای کښې چه حاکمان او کوتوالیان موجود وي څنګه پیدا کېږي او ولې یې څوك مخه نه نیسي؟ نو دلته به د دغه ځای د کوتوال په باب هم یو څو خبری وکړو. دا عادت دی چه څنګه غر هغسې کربوړی زمونږ کوتوال چه د امنیت ساتلو مسئول او د جرایمو او جنایتونو مخه نیوونکی و یو عادی سړی نه و او فوق العاده استعداد یې درلود چه باید سړی ورته ګوته په غاښ کړي. د ده مهارت او چالاکی په بده لاره کښې صرفېده او د ده له پوهې نه ډېر فجایع پیدا کېده. څومره غله او خونیان چه هلته موجود و ټول د ده په ځای را غونډېده یو وخت دی پخپله د یوې داړې مشر و. ده په قلم باندې ډېرې غلا ګانې کولی شوې او په ژبه یې ناحقې خبرې حقې ښکاره کولې. غله او پولیسان دواړه د ده په لاس کښې و او غلاګانې به هم د ده په امر کېدلې. د ده دا کار و چه داړه به یې په یوه ماړه کور وغورځوله او د غلا په مال کښې به یې په سلو کښې یو سل و پنځوس خپله برخه اخستله. تعجب مه کوئ! کله به یې داسی هم وکړه چه د سلو روپو په غلا کښې به دوه سوه د ده وې ځکه چه په هره غلا کښې نیم برخه د ده وه مګر سبا ته به یې چه بې ګناه خلق ونیول او بندیان به یې کړه له هغوی نه به یې هم په رشوت کښې ډېر څه واخستل نو د غلو به نیمه وه او د ده به لکه ابی یوه نیمه شوه. ډېرې داړې به ده د دې دپاره غورځولې چه خپل مدعیان او مخالفین پکښې ونیسي او زاړه انتقامونه واخلی. کله به چه د ده په منطقه کښې غلا ګانې ډېرې شوې او دا خبره به اوچته شوه چه د هغه بل ولایت د کوتوال په منطقه کښې ډیره غلا نه کیږي نو بیا به یې داړه مار هلته ولیږل چه په هغه ځای کښې لاس واچوي او یو څو داړې هلته وغورځوي چه د ده داړه ماري پکښې ورکه شي. د د مشورې په مجلس کښې هم ډېرې غلا ګانې کولې او د تحقیقاتو پاڼې به یې بیخی په بل راز ولوستلې او ډېر حقایق به یې پکښې پټ کړه یعنې په ژبه به یې هغه څه ولوستل چه په پاڼو کښې به نه و بلکه عکس به یې و. دی هېڅ په غلا ونه نیوه او تر اخره چا دا تمیز ونکړ چه دی کوتوال نه دی غل دی.

د ده په وخت کښې ځینې جرایم په اولس کښې کم شوی و ځکه چه ښکلې به ټول په یوه بهانه کوتوال له ځان سره ساتل او کور ته به یې نه پرېښودل. د ده زیات حرص نور خلق له اخلاقي جرایمو څه قدر ته محروم کړی و د ښځو محبس به تل ډك و او ځینې بېګناه ښځې به هم په دسیسه دغه محبس ته د ګناه دپاره را وستلی شوی. یوه شپه چا د ښار ستر مشر ته وویل چه یوه ښځه په محبس کښې نشته او مدام د کوتوال په کور کښې وي ځینې نورې کله هلته او کله دلته وي هغه را روان شو چه محبس وګوري مګر په هماغه آن کوتوال ته تیلفون وشو چه د زندان ښځې شماری ته باید خبر اوسې کوتوال د دې په ځای چه هغه ښځه له کاله نه محبس ته ولېږي یوه بله ښځه د هغې په عوض په محبس کښې داخلوي او تعداد پوره کوي یعنې د یوه ساعت دپاره هم بیلتون نه قبلوي او پردی ښځه له خپل کاله

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه نه باسي. دا محبس ډېر اسرار او ډېر فجايع لري زه د دې په ځای چه دغه اسرار ښکاره کړم دا بهتره بولم چه پټ يې کړم او په يوه اشاره اکتفاء وکړم.

هغه وخت چه دغسې کوتوال موجود و د مملکت مشران او دواړه خاوندان هم دغه راز خلق و او دغه شان خلق يې خوښ و. کوتوال خو به په حيلو او دسيسو يوه ښځه په محبس کښې واچوله او بيا به يې په پټه پخپل کور کښې ترېنه ناجايزه استفاده کوله مګر سترو واکدارانو دا هم کولی شوه چه يوه مېړو ښه له خپل مېړه نه خلاصه کړي او په ډول و سرنی يې خپل کور ته راولي نکاح پرې وتړی. دغه شان واقعات ډېر پيښ شويدی او پدی هېواد کښې يې خپل ابتکار بايللی دی. که داسې قصې په يوه بل وطن کښې پيدا شي او يو ليکونکی ورځنې خبر شي هېڅکله به يې دغسې لنډې لنډې خلاصې نکړی او ډېر جزئيات به يې هم له نظر لاندې ونيسی ځکه چه هلته به دغه شان واقعات له عجايبو او غرايبو څخه ګڼل کېږي او د ليکونکی ډېر زيات دقت به جلبوي مګر دلته هغه شان نه تلقی کېږي او د ليکونکی زړه زور نه اخلی چه په ډېر شد و مد يې تصوير کړي.

بله دا چه يوه واقعه د وقوع په وخت کښې د حکايت په صورت بيانېږي نه د افسانې په شکل. پدې مورد کښې همدغومره ويل کافی دی چه سړی ووائي په هغه ځای کښې چه امران او واکداران د چا ناموس د هغه له لاسه اېستلی شي نو مالونه او جايدادونه به څنګه نشي اخستلی په دغسې محيط کښې رشوت اخستل دا استعداد نلری چه څوك پری رومان وليکي او د چا تعجب جلب کړي.

دا واقعات او حوادث هم د لوښو او ظروفو مثال لري چه وروسته تر ډېرو کلونو په يوه موزيم کښې د تعجب او غرابت شکل و صورت پيدا کوي يا په يوه بل هېواد کښې بل شان معلومېږي.

دغه شيان چه اوس مونږ په موزيم کښې ګورو يو وخت په هر کاله کښې موجود او هره ورځ ليدل کېده په هغه وخت کښې چا دې شيانو ته په دغه نظر نه کتل چه نن مونږ ورته ګورو همدغه سبب دی چه اوس مونږ دغه فجايع په هغه نظر نشو ليدلی چه نوی نسل يې ګوري. اوس زمونږ ادبا او شعرا چه حساسيت يې له نورو زيات دی په دغسې واقعاتو متاثر کېږي او په حساسيت ورته ګوري مګر د نورو خلقو په نظر کښې عادي او مانوس معلومېږي. مونږ په يوه مظلومه دنيا کښې پيدا شوي او لوی شوي يو زمونږ شعور او ادراك د کوچنيتوب له وخته د فجايعو او مظالمو منظري ډېري ليدلي دي مونږ چه اول ځل سترګې غړولي دي يو انسان مو حلال او مذبوح ليدلی او ځينی نور مو د قاتلانو او غلو په نامه پېژندلي دي ځکه ښه نشو پوهېدلی چه زمونږ په رمه کښې پسونه او لېوان ګډ ګرزي او شپانه يې له رمې نه نشي بېلولی بلکه ډېر ځله يې پېژندلی هم نشی. پدی ملك کښی د چنګيز او هلاکو طوفانونه راغلی او دلته داسې خلقو حکومت کړی چه د سرونو منارې يې جګې کړي او د انسانانو سترګې يې اېستلي دي هغه ړوند خان چه خپل يو ځوی يې په بل مړ کړ د هغه سترګې هم د هغه وخت حکومت ړندي کړي وې. پدې ځای کښې خان او ملك ډېره موده بې قانونه حکومت کړی او حاکم و کوتوال په هيچا باندی هيڅ رحم نه دی کړی. دلته سيد او ملا له ظالمانو سره معاونتونه کړي او ځينې

(c) ketabton.com: The Digital Library

روحانیون یې هم په اخره کښې بل راز شویدي او په بله جامه کښې یې خلقو ته تکلیفونه رسولي دي. دغه راز راز ظلمونه چه دلته تاریخچه او د قدامت حق لري یوې داسې مرحلې ته ورسېده چه ظلم او جبر دوهم طبیعت بلکه اول طبیعت شو او غیر طبیعي مظاهر یې ځرګند شوه. له دغو مسلسلو ظلمونو نه په مونږ کښې بدبیني دښمني عدم اعتماد او اجتماعی تنفر پیدا شو او مونږ یې لکه وحشیان غرونو ته وخیژولو مونږ اوس سمې ته په اسانه نه راښکته کیږو او په غرونو کښې له لیوانو او پړانګانو نه دومره نه ویرېږو لکه چه په ښارونو کښې له انسانانو ډارېږو او له کوتوالیانو نه مو زړه چوی.

دغو اوضاعو په مونږ کښې وحشیانه او ارتجاعي انقلابونه پیدا کړه او زمونږ سته یې و اېسته دا عادت دی چه له ظلم نه ظلم پیدا کیږي او د ظالم و مظلوم جوړه په هیڅ شان نه راځي. د حاکمانو او کوتوالیانو ظلم د ملت او حکومت تر مېنځ دښمني پیدا کړه او د حکومت بناګاني یې ونړولې. د خلقو په نظر کښې غله له دغسی کار دارانو نه ښه راغله او غلو موقع پیدا کړه چه زمونږ شاهی ارګ لاندې کړي. هماغه غله چه ما د شهید له واقعې نه وروسته د قاتلانو او خونیانو په نامه وپېژندل د منصبونو خاوندان شو او لویو رتبو ته ورسېدل. هغه غله چه په غرونو کښې یې ځای نه و په ښارونو یې استیلاء وکړه او جرنیلان شوه. د دوی په راتګ د مملکت په هره خوا کښې جنګونه شروع شوه او د افغانستان ځلمې پخپل مینځکښې لکه لیوان او لیونیان ونښتل د مملکت په زړه کښې د حسد او نفاق اورونه بل شوه او لمبې یې ټولو ځایونو ته ورسېدې. د انقلاب اسباب او موجبات البته ډېر شیان و او په ظاهره دغه مجادله د مذهب په نامه وشوه مګر هر څوك پوهیږي چه اصلی عامل څه شی و؟ غله ولې کامیابه شوه؟ خلق ولی د غلو ملګري شوه او له رشوت خورو مامورینو او ظالمانو حاکمانو نه یې په څه دوی ښه وګڼل؟ قدرت دلته دا وښودل چه له پټو غلو نه ښکاره غله ښه دي او عالم مثال دا تقاضا درلوده چه د دغو زمامدارانو په ځای غله کښېنوي. که زمونږ کارداران غله او ظالمان نه وای که دوی په روښوتونو د مظلومو شهیدانو وینې نه خرڅولې یو یتیم یې د هغه د پلار قاتل ته نه سپارلی د یوه مظلوم شهید ښځه په جبري نکاح نه بندي کېدلی، یوه عفیفه پیغله د دښمن په لاس نه خرڅېدلی او د غلو پرده داری نه کېدلی غل نه کوتوال کېدلی هغه کارونه چه غله کوی حاکمانو نه کولی او حکومت د ملت په نظر کښی ظالم د ظالمانو ملګری د غلو حامی د رشوت خورو طرفدار نه وای معرفی شوی غلو د غومره قوت نشو موندلی او رعیت هیڅکله د غلو لښکر کېده نه مګر مونږ په رڼا ورځ ولیده چه غله راغله سیدان، حضرتان، ملایان یې ملګری و، رعیت او ولس یې شاته ولاړ و او مسلمانانو په مساجدو کښې ورته دعا ګانی کولی. دوی ډېر ژر کامیابه شوه امامانو او خطیبانو د دوی په نامه خطبې ولوستلې، د دوی سکه په وطن کښی رایجه شوه او د مملکت کار داران د دوی له وېرې د یوه او بل په کور کښې د غلو په شان پټ شوه. دغه وضعیت تر یوه وخته دوام وکړ او په آخره کښې د لوی خدای په اراده د اعلیحضرت شهید په قیادت او د ملت په وروستی فکر او فداکاری غله له سلطنتي قصره ووتل او داړه مار مغلوب شوه مګر دا باید ووایو چه غله اوس هم بیخي نه دي ورك او زمونږ په

(c) ketabton.com: The Digital Library

مملکتی دوایرو کښې په بله جامه او بل رنګ کښې کار کوي چه زمونږ پولیسان پې نشي نیولی بلکه پولیسان پې له امر او حکم لاندی دي. هر څوك دغه غله نه پېژني څکه چه شکل و قیافه پې بل راز ده او نوم پې هم بدل کړیدی په یوه ځای کښې ورته خلق علاقدار وائي په بل ځای کښې ورته مامور صاحب یا حاکم صاحب ویل کېږي او په ځینو مقامونو کښې پې له دی نه هم لوړ القاب پیدا کړیدي. دا عادت دی چه که سړی له یوه ظرف او لوښی نه د خاورو تیل خالی کړی او تول وینوی بوی پې تر ډېره وخته نه ځي او چه هر وخت یو اور لګیت څوك ولګوي او ورنږدې پې کړي سمدلاسه اور اخلی او سړی پوهېږي چه یو څه تېل لا پاته و چه مونږ نشو لیدلی او زمونږ په نظر کښی هېڅ نه معلومېده غله هم زمونږ له نظره پټ دي او د غلو دا عادت دی چه ځان پټ ساتي او په پټه کار کوي.

مونږ باید دا غله وپېژنو او کشف پې کړو. ما له ډېر پخوا وخته تر دې وخته پورې د غلو تعقیب کړیدی او د دوی لارې مې څارلي دي که دوی په بیوك کښې سپاره وي یا په شورلیټ کښې زه پې پېژنم که په ډېره لوړه چوکۍ کښېني هم رانه نه غلطېږي که پیر شي او که فقیر شي زه غل پیژنم او پوهېږم چه دا څوك دی او څه کوي؟ مونږ باید غله ورك کړو او چا ته د غلا موقع ورنکړو که یو غل ډېر معتبر وي او لوړ مقام پې اشغال کړی وي باید غل ورته ووایو او د مملکت دښمن پې وبولو.

زمونږ په وطن کښې غله والیان شوه جرنیلان شوه وزیران شوه بلکه تاج و تخت ته ورسېدل مګر مونږ هغوی غله ګڼل او مجادله مو ورسره کوله. دا مجادله باید اوس هم پرې نږدو او دوام ورکړو څکه چه غله بیخي ورك نه دي او ډېرې چوکۍ پې اوس هم نیولي دي.

مونږ باید پدې پوه شو چه غله هم لکه د سینما اکتران په ډېرو رنګونو کښې ځان ښکاره کوي او په هره طبقه کښې موجود دي. ځینې کسان شته چه خلق پې د دې دپاره په لمانځه کښې دمخه کوي چه په وروسته صف کښې د خلقو پنې پټوي نو دغسی پیشوا امام نه وي بلکه غل وي او ضرورت وړاندی کړی وي. یو وخت څو تنه غله کوم ځای ته ولاړه او څو اسونه پې له یوه کلي نه په غلا را وایستل دوی چه له کلي نه بیدیا ته را ووتل په کلي کښې نغاره وشوه چه د غلو تعقیب وکړی او اسونه را وګرزوي، غله پوه شوه چه په دوی پسې چیغه را اوزي او دوی ترېنه نشي خلاصېدلی څکه چه هغوی د اسونو په سپرلی او ځغلولو کښې ډېر مهارت لري او دوی لاندې کوي د غلو مشر چه یو سپین ږیری سړی و او د غلا په فن کښې استاذ و له خپل اس څخه ښکته شو او ملګرو ته پې وویل: تاسې اسونه په دغه بیابان کښې لمر خاته خواته ولئ او ډېر ګړندی ځی زه به دلته ستاسو د نجات دپاره پاته شم هغوی دا خبره ومنله او په هماغه خوا روان شوه د غلو مشر جای نماز او سپین څادر چه د ضرورت دپاره پې له ځانه سره پټ ساتل را وایستل جای نماز پې د زیارت پخوا کښې لارې ته نزدې وغوړاوه او سپین څادر پې په سر واچاوه تر څو چه د کلي چیغه را رسېدله ده څو رکعاته نفل هم کړی و او د غلو د نجات دعاپې کوله د کلي خلقو چه د زیارت له څنګه سپین ږیری زاهد او عابد په مسئله باندې ناست ولید چه دواړه لاسونه پې د خدای دربار ته نیولی او دعا کوی له ده نه پې په ډېر احترام تپوس وکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه غله کومسی لاړه سپین ږیری شیخ په خوله هېڅ ونه ویل او په لاس یې لمر پېواته خواته اشاره وکړه هر کله چه د دغسی خلقو په اشاره خلق درومی او ډېر ډېر کارونه کوی هغوی هم د ده ومنله او په هماغه لورې روان شوه. دی یوه شه چه غلو ته مې نجات ورکړ او خلق مې ګمراه کړه نو خپل جای نماز یې وځانډه او په غلو پسې روان شو. وګورئ کله غل زاهد کېږي هم او په دغه ډول غلا کوي مونږ باید غل او شیخ وپېژنو او په هر چا تېرنه اوزو.

دغه تحویلداران چه په دوایرو کښې ګورئ په دوی کښې هم داسې غله شته چه د بیت المال سېه باسي او په کال کښې په زر هاؤ روپۍ غرقوی له دوی سره هم ډېر ماموران مدیران او لوی لوی خلق په غلا کښې شریك وي او ډېر ډېر کارونه کوي. زما یوه ملګری حکایت کاوه چه څو کاله پخواه زه او یو بل سړی چه دواړه له یوې کورنۍ ودونه کړي و یو ځای رسمی دوایرو ته راغلو ما څو کاله تعلیم کړی و او کتابونه مې لوستي و زه کاتب شوم او هغه د دې لامله چه بې تعلیمه و تحویلدار مقرر شو زه پدې څو کالو کښې مدیریت ته ورسېدم او هغه اوس هم تحویلدار دی مګر په کلي کور کښې د هغه اعتبار له ما نه ډېر زیات دی او زما مدیریت څوك په دوه توته نه اخلي ما پخپل حیات او خپل کور کښې هېڅ بهبود حاصل نکړای شو او تحویلدار ډېرې زمکې واخستلې او لوړې بنګلې یې جوړې کړې هغه علاوه په نورو شیانو درې ودونه نور هم وکړه او اوس یې څلور ښځې په کاله کښې ناستې دي د ده یوه ښځه زما ښینه ده او زما کوچنیان کله کله د خپلی ترور د لیدو دپاره تحویلدار کره ورځي چه بېرته راشي تر څو ورځو د هغه د کاله قصې نه تمامېږي، یو یې د رادیو صفتونه کوي بل وایې په کور کښې یې ډېرې ښې قالینې اوارې دي او په میزونو او رفونو باندې یې ډېر ښایسته لوښې ایښې دي. دا صفتونه چه تمام شي بیا نو له ما نه خواهش کوي چه مونږ ته هماغسې رادیو واخله او هماغه شان کالي راته جوړ کړه.

زما د ځوی زړه هم دا غواړی چه د تحویلدار د ځوی په شان دریشي ولري او هماغه شان بوټونه په پښو کړی. د هلکانو مور خو هېڅکله خپلې خور کره نه ورځي او که هغه هر څومره جوابونه راولېږي دا یې په یوه بهانه ردوي او جواب ورکوي، داسې نه چه زه یې منع کوم او هلته یې نه پرېږدم بلکه څو ځله ما هم ویلي دي چه زه ولاړه شه! خور دې خوابدې کېږي او ګله کوي مګر هغه زما هم نه مني او یوه پلمه برابروي چه ما قانع کاندي. که څه هم دا ما ته نه وایې مګر زه پوهېږم چه دا ولی نه ځي او څه شی د خپلې خور له کاله نه ایساره کړېدی؟ دا که څه هم د یوه مدیر ښځه ده مګر جامې یې د تحویلدار ښځو غوندی نه دي او هغه ګانې چه هغوی یې لري دا یې نلري نو که هلته ولاړه شي او د هغوی هستي او خپله نیستي وګوري سترګې یې نه غړېږي او دغه وضعیت نشي لیدلی. په یوه اداره کښې چه دغسې تحویلدار موجود وي هلته ارو مرو د شعبو امران هم ډېرې ګټې لري او ډېر کسان د تحویلدار په غلا کښې شریك وي او دغه شان مدیران په دوایرو کښې ډېر لږ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کومې غلا ګانې چه په دوایرو کښې د قلم خاوندان او میرزایان کولی شي هغه په بل ځای کښې نشي کېدلی که تاسې په دوایرو کښې لږ غوندی بلد شئ او د دوی له کارونو خبر شئ ډېر تعجب به وکړئ.

هغه کال په یوه تفتیش کښې معلومه شوه چه یوه لوی سړي یوازې د حیواناتو له اذوقې نه سل خرواره بوس او څو خرواره اربشې خوړلي وې. دا غلا که څه هم په تول ډېره درنه ده مګر د معنی په لحاظ ډېره سپکه غلا ده او سړی افسوس کوي چه مشران او لوی خلق د بوسو او اربشو په غلا هم نه شرمېږي. دې خلقو په غلا کښې ډېر مهارت پیدا کړیدی او په هر شي کښې غلا کوي دوی اوس په خاره زمکه کښې هم ځانونه مړولی شي او له هېڅ نه ډېر څه بودوي.

یوه چا قصه کوله چه زما مزدور کله چه له بازاره د یوه غیران سودا راوړي نو یو غیران او پنځه ویشت پوله پکښې ځینې وختونه دی وخوري دا خبره هر چا ته له حقیقته لږ غوندی لرې ښکاره شوه او په ظرافت پې محموله کړه هغه وویل زه رښتیا وایم ټوقه نه کوم ما یو ځل دی بازار ته په سودا پسې ولېږه ببرته تش راغی چه پیسې رانه ورکې شوې بل غیران می ورکړ په هغه کښې بې هم پنځه ویشت پوله پټ کړه او پوره سودائی رانوړه زمونږ یوه ملګری وویل دا ستا مزدور خو د حسن له مزدوره هم په غلا کښی زیات مهارت لري. ملګري ټول متوجه شوه چه د حسن مزدور به لا څنګه وي؟ هغه وویل حسن نوماند یو سړی و د هغه یو غل مزدور په برخه شو چه په هره سودا کښې به بې څو پیسې پټولې، یوه ورځ حسن دری غېرانه ورکړه چه ده ته په بازار کښې یو مهر جوړ کړي د مهرونو قیمت معلوم و چه په یوه توری (حرف) یو غیران مهر جوړوونکی اخلی او هېڅ زیات و کم پکښې نه وې. د حسن نوم درې توری و او درې غیرانه کېده مزدور چه مهر کن ته ورغی ورته بې وویل زما نوم خس دی ما ته یو مهر جوړ کړه او دغه یوه روپۍ خپله اجوره واخله مهر کن چه (حس) ولیکه د (ح) په توری باندې بې ټکی اېښوده چه (خس) شي مزدور ورباندې غږ کړ چه دا ټکی د (س) په لمنه کښې کېږده او هلته بې مه ږده مهر کن ورته وویل له دېنه خو درې تورې جوړېږي او اجوره بې درې غېرانه کېږي مزدور ورسره جګړه شروع کړه چه زما درباندی یو ټکی حق دی په هر ځای کښې چه زه وایم هماغلته بې کېږده مهر کن په سوال و جواب له خپل کاره واوت او نور تاوان بې هم کېده نو له ناکامه له یوه غیرانه تېر شو او مهرېې په یوه روپۍ ورکړ مزدور چه خپل بادار ته مهر راوړ د هغه دا یقین و چه پدی سودا کښې بې هېڅ نه دی پټ کړی او د غلا دپاره هېڅ امکان نه و موجود مګر هغه خپل کار کړی و او د خپل فن له مهارت نه بې استفاده کړی وه. زمونږ ځینې مامورین او کارداران چه په تور و سپین پوهېږي او له تورو سره کار لري د غلا دغه راز چلونه او چمونه ورته ډېر ښه معلوم دي او په داسې ځای کښې چه غلا هېڅ ممکنه نه ده غلا کولی شي او د غلا دپاره لاره برابروي.

## پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څه ګورم او څه اورم

www.ulfat.de

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**